**اصل مضمون: ۱۲– ۹۸** **د اوبو ارزښت او په سمه توګه ګټه ورڅخه اخیستل:**

**۱۴/ ۱۲/ ۱۳۹۷ اصلاح نهایی** گردید: **فولدرمضامین چاپ شده برج حمل۱۳۹۸** **لیکوال محسن حنیف**

(أ) اوبه د هغو سترو نعمتونو د جملې یو ستر نعمت دی چې هرژوندی مخلوق اړتیا ورته لري؛ الله تعالی ویلي دي: ﴿وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤۡمِنُونَ﴾ الأنبياء: ۳۰

**ژباړه**: هرژوندی شی مي د اوبو څخه پیدا کړی دی. نو آیا دا خلک ایمان نه راوړي؟

اوبه د ژوند هغه ستره پانګه ده چې انسان او هرمخلوق هم په خپله پیدایښت کې اړتیا ورته لري او هم په خپله بقا او ژوندي پاته کېدلو کې؛ په دې اړه بل ځای الله تعالی ویلي:

﴿وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٖ مِّن مَّآءٖۖ فَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰ بَطۡنِهِۦ وَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰ رِجۡلَيۡنِ وَمِنۡهُم مَّن يَمۡشِي عَلَىٰٓ أَرۡبَعٖۚ يَخۡلُقُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ﴾ النور: ۴۵

**ژباړه**: الله تعالی د ځمکې پرمخ هرګرځېدونکی(ژوی ) د اوبو څخه پیدا کړی دی: نو ځیني یې هغه دي چې پرخپله خېټه روان وي، ځیني یې هغه دي چې پردوو پښو روان وي او ځیني یې هغه دي چې پر څلورو پښو روان وي. الله هغه څه پیدا کوي چې د ده خوښه وي؛ بې شکه الله تعالی پرهرڅه پوره واکمن دی.

دغه آیت د دې خبرې تصریح کړې ده چې الله تعالی د ځمکې د مخ هرژوندی مخلوق د اوبو څخه پیدا کړی دی. وروسې یې بیا د دغو مخلوقاتو ډولونه یاد کړي دي:

یو هغه چې پرخپله خېټه روان وي. دویم هغه چې پردوو پښو روان وي. دریم هغه چې پرڅلورو پښو روان وي، څلورم هغه چې ترڅلورو هم ډېرې پښې ولري؛ لکه چنګاښ، زنځه او داسې نور. په پای کې اشاره کوي چې الله تعالی داسې مخلوقات لري چې خلکو ته نه دي معلوم. خو په ټولو کې ګډ او مشترک ټکی دا دی چې دوی ټول الله تعالی د اوبو څخه پیدا کړي دي. دا رنګه دغه مخلوقات په خپله بقا کې هم اوبو ته اړتیا لري؛ الله تعالی ویلي: ﴿هُوَ ٱلَّذِي يُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ رِزۡقٗاۚ وَمَا يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَن يُنِيبُ﴾ غافر: ۱۳

**ترجمه**: الله تعالی هغه ځوک دی چې دخپل قدرت نښې درته ښیي او د پاسه روزي درته را کښته کوي، خو یوازې هغه ځوک پند اخلي چې حق ته رجوع لري.

د آسمانه روزي را کښته کول دا مطلب لري چې د آسمان د اوبو په ذریعه روزي درته را پیدا کوي؛ آن تردې چې د آسمان اوبه نه وي، نو د ځمکې د اوبو زېرمې هم ختمېږي. نو د انسان رزق: خوړل او څښل د آسمان د اوبو سره تړلي دي؛ په دې اړه الله تعالی ویلي:

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡفُلۡكَ لِتَجۡرِيَ فِي ٱلۡبَحۡرِ بِأَمۡرِهِۦۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلۡأَنۡهَٰرَ﴾ إبراهيم: ۳۲

**ترجمه**: الله تعالی هغه ځوک دی چې آسمانونه او ځمکه یې پیدا کړي دي او د پاسه یې اوبه را اورولي دي، بیا یې د همدې اوبو په ذریعه د ځمکې د حاصلاتو څخه تاسو ته روزي را ایستلې ده، کښتۍ یې ستاسو په خدمت کې ګرځولي د دې لپاره چې په سمندرکې د الله په امرو چلېږي او ویالې یې هم ستاسو په خدمت کې ګرځولې دي.

﴿فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ أَنَّا صَبَبۡنَا ٱلۡمَآءَ صَبّٗا ثُمَّ شَقَقۡنَا ٱلۡأَرۡضَ شَقّٗا فَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا حَبّٗا وَعِنَبٗا وَقَضۡبٗا وَزَيۡتُونٗا وَنَخۡلٗا وَحَدَآئِقَ غُلۡبٗا وَفَٰكِهَةٗ وَأَبّٗا مَّتَٰعٗا لَّكُمۡ وَلِأَنۡعَٰمِكُمۡ﴾ عبس: ۲۴-۳۲

**ژباړه**: نو انسان دې خپلو خوړو ته وګوري دې ته(دې وګوري) چې ما اوبه په پراخه کچه اورولې، بیا مې ځمکه ورته څیرلې ده، دانې، انګور، سبزې، زیتون، خرماوې، سره نښتي باغونه، مېوې او واښه ( دا ټول مې ) د دې لپاره شنه کړي چې تاسو او ستاسو څارویو ته د ګټې ذریعه وي.

﴿أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَسَلَكَهُۥ يَنَٰبِيعَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ يُخۡرِجُ بِهِۦ زَرۡعٗا مُّخۡتَلِفًا أَلۡوَٰنُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصۡفَرّٗا ثُمَّ يَجۡعَلُهُۥ حُطَٰمًاۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكۡرَىٰ لِأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ﴾ الزمر: ۲۱

**ترجمه**: آیا دې ته نه ګورې چې الله تعالی د پاسه اوبه را اورولي دي، بیا یې هغه د ځمکې په چینو کې داخل کړي دي، بیا په همدې اوبو د مختلف رنګونو والا کښتونه را باسي. بیا هغه مراوی کېږي، نو تک زیړ یې وینې، بیا هغه پوټل/ میده میده خشېل وګرځوي؟ بې شکه په دې کې د عقل خاوندانو ته د پند او نصیحت خبرې دي.

اوبه په قرآن کریم د ( ماء ) په لفظ ۶۳ ځله یادې شوې دي. (معجم كلمات القرآن الكريم (۲۶/ ۱۱ لـ أ.د. محمد زكي محمد خضر)

خو دې ترڅنګ په نورالفاظو هم یادې شوې دي؛ لکه باران، کنګل (یخی) او داسې نور.

**ب) د اوبو څخه د سمي ګټې اخيستنې لارې چارې:**

انسان مسؤوليت لري چې د الله تعالى د نعمتونو قدر وکړي، شکر يې پر ځای کړي او ناشکري يې ونکړي. الله تعالى وايي: ﴿ وَإِذۡ تَأَذَّنَ رَبُّكُمۡ لَئِن شَكَرۡتُمۡ لَأَزِيدَنَّكُمۡۖ وَلَئِن كَفَرۡتُمۡ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٞ ﴾ إبراهيم: ٧

**ژباړه**: چې کله ستا رب اعلان وکړ، که تاسو زما د نعمتونو شکر ادا کړ، خامخا نور نعمتونه درته زياتوم او که مو ناشکري وکړه، نو (پوه شئ) چې زما عذاب خامخا سخت دی.

﴿ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا قَرۡيَةٗ كَانَتۡ ءَامِنَةٗ مُّطۡمَئِنَّةٗ يَأۡتِيهَا رِزۡقُهَا رَغَدٗا مِّن كُلِّ مَكَانٖ فَكَفَرَتۡ بِأَنۡعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلۡجُوعِ وَٱلۡخَوۡفِ بِمَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ ﴾ النحل: ١١٢

**ترجمه**: الله ﷻ مثال بيان کړی د يو ښار چې ښېګمه وو، روزي ئې د هر ځايه په پراخه ډول ورته راتله خو د الله د نعمتونو ناشکري ئې وکړه، نو الله ﷻ دوی په لوږي او وېرې وپوښل د هغه څه په وجه چې دوی کول.

﴿لَقَدۡ كَانَ لِسَبَإٖ فِي مَسۡكَنِهِمۡ ءَايَةٞۖ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٖ وَشِمَالٖۖ كُلُواْ مِن رِّزۡقِ رَبِّكُمۡ وَٱشۡكُرُواْ لَهُۥۚ بَلۡدَةٞ طَيِّبَةٞ وَرَبٌّ غَفُورٞ فَأَعۡرَضُواْ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ سَيۡلَ ٱلۡعَرِمِ وَبَدَّلۡنَٰهُم بِجَنَّتَيۡهِمۡ جَنَّتَيۡنِ ذَوَاتَيۡ أُكُلٍ خَمۡطٖ وَأَثۡلٖ وَشَيۡءٖ مِّن سِدۡرٖ قَلِيلٖ ذَٰلِكَ جَزَيۡنَٰهُم بِمَا كَفَرُواْۖ وَهَلۡ نُجَٰزِيٓ إِلَّا ٱلۡكَفُورَ ﴾ سبأ: ١٥ – ١٧

يقيناً د سبا قبيلې لپاره په خپل استوګنځي کې عبرتي نښانه وه: دوه باغونه راسته او چپه لوري ته(ورته مې ووېل) د خپل رب د روزۍ څخه خوراک کوئ او احسان ئې ومنئ، وطن مو پاکيزه او رب مو بښونکی دی. دوی مخ واړوی نو د تړل شوي بند سيلاب مې ورباندې راولېږی او هغه دوه باغونه مې په دوه داسې باغونو بدل کړه چې بې خونده حاصلات او غز او لږ څه بېرې ئې درلودې، دا مې د دوی د ناشکرۍ سزا ورکړه او د ناشکره پرته بل چا ته سزا نه ورکوم.

دا رنګه انسان مکلف دی چې د خپل ضرورت په کچه د الله د نعمتونو څخه ګټه واخلي، نور يې ضائع نکړي؛ الله تعالى وايي: ﴿وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ﴾ الأعراف: ٣١

**ترجمه**: خورئ، څښئ او اسراف مه کوئ؛ بې شکه چې الله تعالى اسراف کوونکي نه خوښوي.

**ج) د اوبو څخه د سمي ګټې اخيستنې لپاره څو وړانديزونه:**

د اوبو د ضائع کولو او بې ځايه مصرف مخنيوی دې هر هيواد وال خپله دنده وګڼي.

هر څوک دې تر خپله وسه د اوبو په ذخيره ساتلو کې ونډه واخلي، که حکومت وي که ملت.

د حکومت په ځانګړي ډول هغو ادارو چې رسمي دنده ئې د اوبو سره تړاو لري، دا مسؤوليت دی چې د اوبو د ذخيره کولو او وطن د سمسورتيا لپاره لوی بندونه جوړ کړي؛ ترڅو مو هيواد وال آرام وي.

ولسي خلک دې هم هر څوک تر خپله وسه يو شمېر واړه بندونه او ذخيرې جوړې کړي.

د نوي کال په پيل کې دې هر سړی په خپلې نږدې سيمه کې لږ تر لږه يو نهالګی کينوي.

د ګران هيواد د سمسورتيا په هيله.